# مسیر

ورځپانه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د کب اوومه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲۶مه | دویم کال| ۳٤۱مه ګڼه


خبره

۴ مخ



## جورج واشنګټن

جورج د امریکا لپاره کابینه جوړه کړه، ځان ته یې مرستیال وټاکه، چارې یې وویشلې او د نړۍ له هېوادونو سره یې د امریکا سیاسي او اقتصادي اړیکې پراخې کړې.


## د دوحې پنځمه ناسته؛

# خلیلزاد وايي له طالبانو سره مذاکرات مهم پړاو ته رسېدلي دي



۳

## پنجشیر کې د اوبولګولو کانال چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو



د پنجشیر د عنابې ولسوالۍ اړوند د قلعچه کلي د اوبو لګولو د کانال چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

د اوبولګولو یاد کانال د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت اړوند، د اقلیم له بدلون سره د سمون «CCAP» پروژې له خوا د ۱۲ میلیونو او ۸۰۷ زرو افغانیو په مالي لګښت جوړ شوی دی.

له یاد کانال څخه به ۵۰۰ کورنۍ هر اړخیزه ګټه پورته کړي او ترڅنګ به یې ۸٦ هکټاره کرنیزې ځمکې هم د خړوبولو تر پوښښ لاندې راشي.

د عنابې ولسوالۍ اوسېدونکي د یاد کانال له جوړېدو هرکلی کوي او وايي، چې د یاد کانال په مرسته به یې ډېرې هغه ځمکې چې تر اوسه شاړې پاتې وې، کر ته اماده شي چې ورسره به د دوی حاصلات هم تر ډېره زیات او ستونزې به یې راکمې شي.

### د قطر رواني خبرې؛ بریا او ناکامي دواړه له همدې ځایه پیلېږي

۲ مخ

### د ډیورنډ کرښې د هوکړه لیک په اړه لنډ حقوقي او تاریخي بحث

۲ مخ

### د ملي یووالي حکومت او د ثور د اوومې د وحشتونو تکرار

۳ مخ

## حکمتیار: ولسمشر غني د کورنیو او بهرنیو فشارونو له کبله لویه جرګه راغواړي

د حزب اسلامي مشر، ګلبدین حکمتیار ویلي، ولسمشر غني تر کورنیو او بهرنیو فشارونو لاندې دی او له همدې کبله مشورتي لویه جرګه راغواړي.

نوموړي د تخار ولایت له ځینو اوسېدونکو سره په لیدنه کې ویلي، لویه جرګه هغه مهال د منلو وړ ده چې ګډون کوونکي یې انتصابي نه وي.

حکمتیار زیاته کړې، د لویې جرګې غړي باید د خپلې پرېکړې واک ولري، اجنډا باید مخکې له مخکې ځانګړې شوې وي، که داسې نه وي، نو لویه جرګه به یو نندارېز کار وي او دا جرګه به نه یوازې دا چې ستونزې به هوارې نه کړي، بلکې ستونزې به لا نورې هم زیاتې کړي.


حکمتیار دا څرګندونې په داسې حال کې کوي، چې ولسمشرۍ مانۍ ویلي، د سولې په مشورتي لویه جرګه کې چې ټاکل شوې د روانې لمریزې میاشتې په ۲٦مه جوړه شي، د هېواد له ګوټ ګوټ څخه به له دوو تر څلورو زرو کسان پکې برخه واخلي.

د ولسمشر ویاند هارون چخانسوري ویلي چې د دې جرګې غړي به له طالبانو سره د سولې په خبرو کې د سرو کرښو په اړه پرېکړه وکړي.

چخانسوري زیاته کړې: «د څرنګوالي او میکانېزم په اړه چې څه ډول به کسان انتخاب شي، په راتلونکو ورځو کې به فرمان لاسلیک شي». بلخوا ځینو سیاسي جریانونو هم ویلي چې حکومت له دوی سره د دې جرګې د غړو د رابللو او د منځپانګې په اړه مشوره نه ده کړې.

د حزب اسلامي دفتر په خبرپاڼه کې همدا راز د ټاکنو په تړاو هم ویل شوي چې د ولسي جرګې د تېرو ټاکنو د پایلو په تړاو نه یوازې حزب اسلامي، بلکې ټول لوري شکایت لري.

## د ټاکنیزو کمېسیونونو ناڅرګند حالت اندېښنې کړې یو



۵ مخ

## داودزی: ۳۰ درصد شرکت کننده‌گان جرگهٔ صلح زنان خواهند بود



محمدعمر داودزی، رئیس دارالانشا شورای عالی صلح می گوید که قرار است در جرگهٔ مشورتی صلح در حدود دوهزار تن شرکت کنند که ۳۰ درصد آن زنان خواهند بود.

این در حالی است که قرار است جرگهٔ مشورتی صلح، به تاریخ ۲٦ تا ۲۹ماه جاری در کابل برگزار شود و شرکت کننده‌گان دربارهٔ چگونگی پیشبرد گفت‌وگوهای صلح با طالبان، رأی‌زنی کنند.

پیشتر شورای عالی صلح گفته بود که قرار است از طالبان نیز برای شرکت در این جرگه، دعوت شود.

رئیس شورای عالی صلح می گوید که طرزالعمل برگزاری لویه جرگهٔ صلح تکمیل شده‌است که بربنیاد آن، دو هزار تن از کابل و ولایت‌های کشور در آن شرکت کنند.

پیش از این، ریاست‌جمهوری گفته بود که احتمال دارد تعداد شرکت کننده‌گان این جرگه به چهارهزار تن برسد.

آقای داودزی می‌گوید که در هر ولایت نماینده‌گان زنان، جامعهٔ مدنی و جوانان زیرنظارت والی همان ولایت یک کمیتهٔ گزینش ایجاد خواهد شد و این کمیته‌ها در جریان یک هفته شرکت کننده‌گان این جرگه گزینش خواهند کرد.

به گفتهٔ داودزی، در حدود یک هزار و یک صد تن از ولایت‌ها و در حدود نُه‌صد تن دیگر از کابل و نهادهای ملی برای شرکت در جرگهٔ صلح شرکت خواهند کرد.

حکومت در حالی برای برگزاری این جرگه آماده‌گی می گیرد که دیروز پنجمین دور گفت‌وگوهای ایالات متحده با طالبان در قطر برگزار شد.





SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019

Admission Open

Starting: 2 April 2019

Speaking Skills

How to Speak English Well

Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

www.shigal.edu.af

+93 (0) 789 98 9696

Shigal English Academy

Shigal.edu@gmail.com

دریـــځ

## د قطر رواني خبرې؛ بریا او ناکامي دواړه له همدې ځایه پیلېږي

په قطر کې د طالبانو او امریکایي استازو ترمنځ خبرې پیل شوې دي. پرون یوازې د پېژندنې غونډه وه چې د قطري چارواکو په کوربه توب شوې وه. د امریکایي پلاوي مشر زلمي خلیلزاد پر ټوېټر لیکلي دي، چې په قطر کې مې د طالبانو د سیاسي دفتر له نوي مشر ملا برادر سره لومړی ځل ولیدل او د غرمې ډوډۍ مې ورسره وخوړه. نوموړي دغه راز لیکلي چې دا ځل د طالبانو له یوه «با اختیاره « پلاوي سره گورم او تمه لرم چې د سولې په خبرو کې مهم پرمختگ وشي. طالبانو هم تایید کړې چې ملا برادر په غونډه کې و، خو وایي چې د مذاکراتي ټیم مشري به عباس ستانکزی کوي او له ملا برادر نه به لاربښوونې اخلي. تمه ده چې خبرې به نن په رسمي او جدي ډول پیل شي او څلور ورځې به دوام کوي.

دا خبرې ځکه مهمې دي چې له یوه اړخه پر اساسي موضوعاتو پکې بحث کېږي او له بله اړخه دوو تخنیکي کمېټو له وړاندې پر اړوندو موضوعاتو کار کړی دی. له دې امله ښایي خبرې پر اصلي موضوعاتو را وڅرخي چې دا چاره د توافق احتمال زیاتوي. دې غونډې ته هم خلیلزاد له یو مهم او با صلاحیته پلاوي سره ورغلی او هم د پخوا په پرتله د طالبانو مهم او قوي غړي پکې برخه لري، چې خلیلزاد هم « با اختیاره « پلاوی گڼلی دی. د طالبانو مهم مشر ملا غني برادر هم قطر ته ورغلی دی. که څه هم په خبرو کې د هغه گډون نه دی تایید شوی، خو له شک پرته هغه به خبرې رهبري کوي او تر شارنې لاندې به یې وي. له بله اړخه د طالبانو پر پخوانیو غړو سربېره، نوي کسان هم ورغلي چې د طالبانو د نفوذ لرونکو کورنیو غړي پکې دي. د ملا عمر ورور ملا منان عمري، د مولوي منصور د کورنۍ مهم غړی عبدالطیف منصور او د مولوي یونس خالص د کورنۍ غړی مولوي مطیع‌الحق هم له مذاکراتي ټیم سره په قطر کې یو ځای شوي دي. دا چاره هم ښیي چې دا خبرې هم د با صلاحیته پلاوو ترمنځ دي او هم مهمې او برخلیک ټاکونکې دي.

دا خبرې له دې اړخه هم مهمې دي چې ښایي داسې گامونه واخیستل شي چې مخ پر وړاندې تگ اسانه کړي. یا ښایي چې خبرې له داسې ربړې سره مخ شي چې وړاندې تگ ستونزمن او ان ناشونی کړي. که امریکا د ځواکونو وتل ومنل او طالبانو یې د وتلو پر څرنگوالي توافق وښود، نو مانا دا ده چې وړاندې تگ اسانه شوی دی او اساسي ستونزه حل شوې ده، خو که په دې خبره کې اختلاف پاتې شو او دواړه لوري پرې جوړ نه شول، نو د دې مانا دا ده چې وړاندې تگ ستونزمن او ښایي ناشونی وي. دغه راز که امریکا د طالبانو هغه ډاډ او تضمین ومانه چې افغانستان به بیا د امریکا او امریکایي گټو پر ضد نه کارول کېږي، نو یوه بله لویه غوټه هواره شوې ده، خو که یې ونه منل، مانا یې دا ده چې د جوړجاړې پر وړاندې خنډونه شته چې لرې کول یې ستونزمن دي. راتلونکې څو ورځې به روښانه کړي چې د سولې خبرې د بریا که ناکامۍ لوري ته رواني دي، خو له همدې ځایه او له همدې خبرو بریا یا ناکامي پیلېږي.


# د ډیورنډ کرښې د هوکړه لیک په اړه لنډ حقوقي او تاریخي بحث

لیکوال: سید حبیب هاشمي / وروستۍ برخه:

**درېیم اصل- د یو تړون نسبیت:**
د لاتین په حقوقي دود کې د یو تړون نسبیت په لاندې ډول څرگند شوی دی:
یعنې یو تړون د یو ثالث لپاره وجیبه او حق نه زیږوي Pacta testis nec nocentnec prosunt» «
موږ پر دغه مورد باندې باید په تفصیل وغږېږو، ځکه چې د ډیورنډ موافقه لیک د تحت الحمایه افغانستان او حامي یا پروټکتور انگلستان تر منځ منعقد شوی و، نه د افغانستان او پاکستان تر منځ. پاکستان د ډیورنډ د موافقه لیک د رامنځته کېدو په وخت کې اصلاً نه و. Pratique چال چلند دولتونو او Jurisprudence international په نړیواله کچه کې قضایي رویه پردې متفقه ده چې یو تړون چې د دواړو هېوادونوتر منځ لاسلیک کېږي، پر یو ثالث هېواد باندې حقوقي اغېز نه شي اچولی. پر دې مورد باندې لاندې مثالونه ته اشاره کوو:
**الف-** المان د ۲۰مې پېړۍ په سر کې د پولنډ د یوې سیمې پروړاندې چې (اوت سیلیزي) نومیده، ځمکنۍ دعوه درلوده، د نړیوال عدالت نړیوال دیوان (ب،ع،ن،د) په ۱۹۲۶ ز کال د مې په ۲۵مه په خپل اووم نمبر حکم کې تجویز وکړ، چې یو تړون یوازې متعاقد دولت ته حق او مکلفیت ورکولی شي، نه ثالث دولت ته. د عدالت نړیوال دیوان (ع،ب،د) نوموړی حکم تایید کړ.
**ب -** د (ع،ب،د) د الوتکې په یوه پېښه کې چې د ۱۹۵۵ ز کال د جولای په ۲۷مه واقع شوه او په نتیجه کې یې د بلغاریا او اسرایلو ترمنځ شخړې رامنځته شوې، داسې حکم وکړ چې د دیوان د اساسنامې ۲۶ مادې د یوه ثالث دولت په اړوند حقوقي اثر نه لري.
په نړیواله کچه په مختلفو قضیاوو کې د حکمیت پرېکړې د ( ب،ع،ن،د) او د (ع،ب،د) د تایید په استقامت صادر شوې دی . د تاریخ په بهیر کې د دولتونو پراتیک چې د ډیپلوماسۍ او اعلامیې له لارې افاده کېږي، د تړونونو د نسبیت د پرنسیب د تایید په درېځ کې قرار لري .
**ج -** جنرال دوگول د فرانسې پخوانی ولسمشر په ۱۹۴۵ ز کال د فبرورۍ په ۵مه مخکې د (یالتا) د کنفرانس له جوړېدو څخه وویل:(فرانسه ځان د هغو تړونونو د اجرا مکلف نه گڼي کوم یې چې د خبرو اترو په جریان کې گډون نه درلود. د همدغه درېځ په تایید د(بن) د ۱۹۷۵ ز کال د اکتوبر په ۱۴مه اعلامیه کې راغلي دي: (فرانسه، انگلستان، شمالي ایرلنډ او امریکا په ډاگه اعلاموي چې د دوی تر منځ تړل شوي تړونونه پر یو ثالث دولت باندې حقوقي اثرات نه شي اچولی .
بالاخره د ویانا کنفرانس د اعلامیې په ۳۴مه ماده کې راغلي، له محتوا څخه ډک مخکینی حقوقی دود او دستور په لاندې عبارت کې مسجل شو: «یو تړون د ثالث دولتونو په اړه هېڅ حق او وجیبه نه شي تولیدولی.
له ټولو مخکنیو توضیحاتو څخه څرگندېږي چې د ډیورنډ د موافقه لیک اصلي اړخونه تحت الحمایه افغانستان او حامي یا پروټکتور انگلستان شمېرل کېږي. نو بناً پاکستان د ډیورنډ داستعماري توطیې له کړۍ څخه لرې پاتې کېږي او هغه ته هېڅ برخه یا وجیبه نه ور پر برخه کوي.
**څلورم -** د دولتونو د وراثت موضوع :
د ویانا د ۱۹۷۸ ز کال کنوانسیون په ۱۵مه ماده کې راغلي: «په عادي او عمومي حالاتو کې کله چې یو دولت د بل دولت ځای ونیسي، وارث دولت د مخکیني دولت د حقونو او وجایبو د میراث مستحق گڼل کېږي.»
مهمه پوښتنه دا ده چې ایا هغه دولت لکه پاکستان چې د استعماري دولت له منځه تگ وروسته، نوی زېږول کېږي، د هغه تړون چې د استعمار د واکمنۍ له خوا منعقد شوی وي، یو اړخ شمېرلی شو که نه؟
دلته موضوع د لاندنیو موضوعاتو د طرح کېدو له کبله پېچلې کړي:
- د نوي دولت د واکمنۍ حق (سوورنته) اعمال
- د نورو هغو دولتونو گتې ساتل چې له استعماري دولت سره د تړون په چوکاټ کې تړل شوي وي
- د کثیر الاضلاع تړون په اړه د نړیوالې ټولنې د گټې تامینول
عمومي قاعده دا ده چې د ښکیلاک له واکمنۍ څخه پاتې شوی نوی دولت، د مخکیني دولت د معاهداتو په وړاندې د ثالث دولت حیثیت لري او د تړونونو د امتیازاتو او احیاناً له وجایبو څخه گټه پورته کولای نه شي. یا په بل عبارت، کله چې د یو تړون یو اړخ له صحنې څخه حذف کېږي، تړون له خپلې پښتوانې څخه بې برخې او جنساً له منځه ځي.
دلته د یو مثال په راوړلو اکتفا کوو: (ع،ب،د) د ۱۹۹۷ ز کال د سپټمبر په ۲۵م حکم کې د سلواکیا د نوي جوړ شوي دو لت په تاوان هغه تړون چې په ۱۹۷۷ ز کال د «دنیوب» د سیند له شاوخوا ځمکې، د وېش پر سر باندې د چکسلواکیا او هنگري ترمنځ تړل شوی و، ملغاً اعلام کړ .
له مخکنیو توضیحاتو څخه داسې څرگندېږي، چې د پاکستان دولت چې د ښکیلاکگر برېټانوي هند د واکمنۍ له نسکورېدو څخه وروسته جوړ شو، د ډیورنډ د موافقه لیک د مفاداتونه بې برخې پاتې کېږي. ان تر دې چې د ډیورنډ د کرښې پر سر باندې اغزن سیم غځول هم، حقوقي قواعدو، سلامتیا او بشپړتیا ته هم تاوان رسوی.
**پنځم -** د یو تړون د اجرا او تطبیق پروسیجر :
دا په دې مانا چې کله یو تړون عملي او تطبیقي بڼه غوره کړي، نو په دې اړه مختلف پروسیجرونه موجود دي :
**الف -** د یو ثالث دولت ضمانت. مثلاً امریکا په ۲۰۰۱ ز کال کې د اسرایلو او مصر ترمنځ د تړون د تطبیق ضمانت په غاړه واخیست.
**ب -** د څارنې نړیوال کمېسیون هغه مورد دی چې په ۱۹۵۴ ز کال کې د ژنیو) د معاهدې پر بنسټ باندې د لاووس د ناپیلېټوب د موافقه لیک د اجرا په مقصد جوړ شو .
**ج -** د تحقیق کمېسیون چې د تړون له اړخونو څخه جوړ شوی وي او د معاهدې د احکامو له سرغړونې څخه راپور تنظیم او نهایتاً (ع، ب، د) ته وړاندې کړي .
د ډیورنډ د موافقه لیک د اجرا په اړه هېڅ یو ضمانت نه و تاکل شوی. بر خلاف له قراینو څخه څرگندېږي چې موافقه لیک له هماغو لومړنیو ورځو څخه تر اوسه پورې په عمل کې وجود نه لري. په دې معنی چې :
**الف -** ولسونه د ډیورنډ د کرښې په دواړو خواوو کې پرته د پاسپورټ له شکلیاتو څخه تگ او راتگ کوي.
**ب -** ازادو قبایل په بشپړه توگه د پاکستان په سیاسي او حقوقي نظام کې نه دي جذب شوي. دوی اکثراً فوج ته عسکر او حکومت ته مالیه نه ورکوي او خپل ملي هویت یې ساتلی دی.
**پایله**
الف - د حقوقو د (تیوری) له نظره د ډیورنډ موافقه لیک د توجیه وړ بڼه نه لري. په (عمل) کې هم د نوموړي موافقه لیک اجرایي شته والی تر سوال لاندې دی.
ب - د ډیورنډ کرښه گده کرښه ده . پاکستان د افغانستان له موافقی پرته دا حق نه لري، چې د کرښې په جوړښت چې په زیاتو سیمو کې نه دی تثبیت شوی، پخپل سر بدلون راوړي او یا د اغزن سیم په غځولو یا مین په ایښودلو د هغه استقامت وټاکي. دغه کار د افغانستان پر خاوره باندې ښکاره تېری گڼلی شو .
ج - اوس وخت افغانستان کې ځینو افغاني توطیه گرو کړیو د ډیورنډ له موافقه لیک څخه د افغانستان په تاوان او د پردیو په گټه د یوه سیاسي افزار په توگه ناوړه گټه پورته نه کړه چې باید اجازه هم ورنه کړای شي .
د - د افغانستان او پاکستان ترمنځ د نړېوالي علایق په کافي اندازه موجود دي. باید دواړه هېوادونه په سیمه کې د متقابلې دوستۍ مثال واوسي. د ډیورنډ کرښه چې عملاً له منځه تللې، باید د دواړو هېوادونو ترمنځ د لا زیاتې همکارۍ او دوستۍ لاره پرانیزي او د جلاوالي لامل ونه کرځي.
ه - افغانستان له پاکستان سره د ډیورنډ د کرښې پر سر باندې، د خپل اختلاف د واقع بینانه او منصفانه حل لپاره باید یوازې او یوازې سیاسي سوله ییزو لارو چارو په تمه واوسي او پورتنیو دلایلو ته په کتو، د نړیوالو همکارانو او نهادونو له لارې دې معضل ته د پای ټکی کېږدي.
**پای**

## د سولې عالي شورا: هیله من یو چې د قطر ناسته به بین الافغاني خبرو ته لاره پرانیزي

د سولې عالي شورا ویلي، هیله من یو چې د قطر ناسته به بین‌الافغاني خبرو ته زمینه برابره کړي.
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او طالب استازو ترمنځ د خبرو تېرو څلورو پړاوونو د افغان حکومت لپاره ښه خبرونه نه درلودل، خو د خبرو په پنځم پړاو کې د ملا برادر ورگډېدل هیله ښښونکي ښودل شوي.
د سولې عالي شورا ویلي چې ملا برادر د طالبانو یو مهم مشر دی او د پرېکړو صلاحیت لري.
د دې شورا ویاند سید احسان طاهري ازادي راډیو ته ویلي: «ملا برادر د طالبانو د تحریک مؤسس او د دغې ډلې د تصمیم نیوونکو په ډله کې راځي، نو داسې معلومېږي چې اوسنۍ ناسته یوه مهمه ناسته ده. موږ هیله لرو چې هلته د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مخامخ خبرو د پیلېدو په اړه ژر تر ژره پرېکړه وشي.»
په ورته وخت کې د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس محمدعمر داوودزي هم په یوه خبري غونډه کې ملا برادر یو مستقل مزاجه او د فکري استقلال درلودونکی شخص یاد کړی دی.
دا په داسې حال کې ده چې په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ، د ۱۷ کلنې جگړې د پای ته رسېدو او په دغه هېواد کې د سولې د ټینگېدو د هڅو په ترڅ کې د زلمي خلیلزاد په مشرۍ د سولې لپاره امریکایي پلاوي تېره ورځ د قطر په پلازمېنه دوحه کې بیا د طالبانو له استازو سره خبرې وکړې.
د دغو خبرو په تېر څلورم پړاو کې چې په دوحه کې ترسره شو او شپږ ورځې یې دوام وکړ، دواړو لورو اعلان وکړ چې پر مهمو موضوعاتو یوې عمومي موافقې ته رسېدلي دي.
د راپورونو له مخې، له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو مهالوېش او د دې مسئلې یقیني کول چې له افغانستانه به بیا القاعده یا نورې سخت دریځې ډلې د یوې اډې په توگه کار نه‌اخلي، هغه مسایل وو چې دواړه لوري پرې سلا شوي وو.



په ورته وخت کې د افغان حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله د دوشنبې په ورځ د وزیرانو شورا له ناستې مخکې رسنیو ته ویلي، چې افغان حکومت هم مسوولیت لري چې د سولې په وړاندې خنډونه لرې کړي.
عبدالله زیاته کړې: «موږ هم مسوولیت لرو چې د خبرو اترو پر وړاندې خنډونه لرې کړو، که بحث دا وي چې خبرې اترې له کوم ډول یو ټیم سره وشي، موږ باید انعطاف ولرو، داسې یو ټیم جوړ کړو چې په ترکیب کې یې حکومتي استازي، سیاسي او ملي څېرې وي او د دغسې یو ټیم جوړول کولای شي چې د بین‌الافغاني خبرو په وړاندې د طالبانو هر ډول بهانه لرې کړي.»
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د افغان سولې په تړاو هلې ځلې تر بل هر وخت تېزې شوې دي، خو هغه څه چې امریکا او افغان حکومت یې هیله لري، د بین‌الافغاني خبرو پیل دی، خو وسله والو طالبانو دغه وړاندیز رد کړی دی.

# د ملي یووالي حکومت او د ثور د اوومې د وحشتونو تکرار

لیکنه: شنیزی سالار

د ملي یووالي حکومت د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې، د ولسي خلکو پر کورونو داسې بریدونه کوي، لکه د دوو هېوادونو ترمنځ جگړه کې چې نه ښار ورته مهم وي، نه کلي، نه ولسي خلک او نه دولتي خلک.

د هېواد په لر او بر کې مو د وینو لښتي بهېږي او د دولتي سرچینو په حواله، چې د ورځې له سلو تر دریو سوو هېوادوال وژل کېږي، خو چارواکي د دې پرځای چې د ولس د ژغورنې او ولس د ژوند د خوندیتوب په اړه خپل مسوولیت ادا کړي، هاغه د خلق او پرچم د نظام خونړۍ تجربې او د کرکې وړ شعارونه کاروي، چې له امله یې نه مسجد په امن دی، نه د خلکو کلي او کورونه، نه روغتون په امن دی او نه ښوونځی.

څو ورځې وړاندې په وردگو کې پر دریو کلیو چاپې اچول شوې، یو جومات او د ښځو او ماشومانو په گډون یې ۲۰ کسان شهیدان کړي دي.

د رسنیو د راپورونو له مخې، په وژل شویو کسانو کې نهه کسان د یوې کورنۍ غړي دي او د یادې کورنۍ یوازې یو ماشوم ژوندی پاتې شوی چې د پېښې پرمهال په کور کې نه و.

د پېښې انځورونه د مسلمان خو څه چې د هر باوجدانه او بااحساسه انسان زړه دردوي، دا د ثور د اوومې د واکمنۍ د وحشتونو تکرار دی، هغه وحشتونه چې له امله یې افغانان تر ننه در په در دي.

دا لومړی ځل نه دی او د حکومت له دریځ څخه داسې ښکاري چې دا پېښې به وروستۍ هم نه وي؛ ځکه د حکومت مشرانو له ځرگندونو داسې ښکاري چې دوی ته د ولسي خلکو مرگ ژوبله چندان ارزښت نه لري.

دوی د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې پر کلیو، جوماتونو او مدرسو داسې بې رحمه بریدونه کوي، لکه د دوو هېوادونو ترمنځ چې جگړه وي او لکه دا خلک چې د افغانستان نه وي.

کله چې د دوو هېوادونو ترمنځ هم جگړه وي، نو ملگري ملتونه او نور نړیوال هېوادونه پر دواړو غواړو غږ کوي، چې د ولسي خلکو د مرگ ژوبلې خیال ساتئ، خو زموږ په هېواد کې دغه غږ هم څوک نه کوي، د تش په نامه بشري حقونو سازمان مشرې سیما سمر هم چې له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې د پښتون پر سر او پښتون ولس هر ظلم او وحشت شوی، دې خوله نه ده چوله کړې.

ولسي خلک څوک وژني، حکومت که امریکایي ځواکونه؟

د ملي یووالي حکومت مشرانو واک ته د رسېدو په لومړۍ ورځ، له امریکا سره هغه جنجالي امنیتي تړون لاسلیک کړ چې ډېری افغانانو یې د نه لاسلیکېدو غوښتنه کوله.

بل یې دا کار وکړ چې امریکایانو ته یې د شپنیو عملیاتو د پیلولو او افغان پوځ ته په جگړه کې له درنو وسلو څخه د استفادې اجازه ورکړه او دا هغه څه وو چې د پخواني حکومت په وروستیو کې بند کړی شوي وو.

ملي وحدت حکومت به د دغو عملیاتو په پیل کې وخت ناوخته د بهرنیو ځواکونو د بریدونو مسوولیت افغان ځواکونو ته منسوب کړ چې وروسته به امریکایي او ناټو ځواکونو اعتراف وکړ چې برید دوی کړی. په دغه کار سره له ولس سره شک پیدا شو چې بریدونه بهرني ځواکونه کوي، خو دولت د خلکو د حساسیتونو د مخنیوي لپاره افغان ځواکونو ته منسوبوي.

په دې اړه ډېر بحث ځکه نه کوم چې موضوع اوږدېږي، فقط د بي بي سي راډیو یوه راپور ته اشاره کوم چې د روان زېږدېز کال د جنورۍ په لومړۍ نېټه یې د نیویارک ټایمز ورځپاڼې په حواله خپور کړی او ویلي یې دي: «د سي آی اې ملاتړي افغان ځواکونه ولسي خلک ربړوي او وژني یې».

په دغه راپور کې داهم ویل شوي: «دا جگړه ییز ځواکونه چې همدا راز د ترهگرو د لټون ډلو په نامه هم یادېږي، د سي آی اې له لوري استخدامېږي، سمبالېږي او روزل کېږي. دغو ځواکونو ته د عادي افغان سرتېرو په پرتله نږدې درې برابره تنخوا ورکول کېږي.»

که څوک غواړي چې په دې اړه نور جزیات پیدا کړي، نو د بي بي سي پښتو څانگې سایټ ته دې مراجعه وکړي.

هدف دا دی چې اوس د افغانستان وضعیت دومره پېچلی دی چې له سړي لاره ورکه شي چې اوس موږ څوک وژني؟ ایا رښتیا مو افغان ځواکونه وژني او که امریکا د افغان ځواکونو په نوم کومه ډله لري او هغوی مو وژني؟

لومړی خو ملي یووالي حکومت ته پکار ده چې په دې اړه له ولس سره معلومات شریک کړي چې ایا دا ځواکونه د افغان پوځ په چوکاټ کې دي او که د امریکا په چوکاټ کې؟ او ایا دغه ځواکونه د افغان حکومت تر امر لاندې دي او که نه؟

بلخوا له روان وضعیت څخه داسې ښکاري چې حکومت هم غواړي پر طالبانو خپل فشار ته دوام ورکړي، څو د دولت غوښتنو ته غاړه کېږدي، خو دې ته یې پام نه دی چې په بریدونو او چاپو کې د ولس وژني او د کلیو، کورونو، جوماتونو او دیني مدرسو بمبارول د حکومت د خرابېدو لامل کېدای شي.

**امنیتي ځواکونو ته په جگړه کې د بندیانو د وژلو امر او پایلې یې!**

د چارواکو له خوا امنیتي ځواکونو ته داسې واک ورکول او امر کول چې د دوی په خبره: «که چا وسله پورته کړه ویې وژنئ! که په جگړه کې مو د مقابل لوري وسله وال ونیول، نو ژوندي یې مه پرېږدئ!» چې په دغه کار سره دولت خپلې گوډې ماتې پښې په خپله وهي، داسې چې که تېر تاریخ ته وکتل شي، په افغانستان کې هر نظام چې ولس وژنو ته مخه کړې، نو ډېر دوام یې نه دی کړی.

دا چې په هېواد کې له څلوېښتو کلونو را پدېخوا جگړه روانه ده او له قوم، ژبې، گوند او بېلابېلو نومونو سره میلیونونه کسان پکې وژل شوي، همدومره معیوب شوي او په میلیونونو کورنۍ زیانمنې شوې دي، نو شک نشته چې د حکومت د مشرانو له اوسنیو امرونو څخه به ډېری کسان د خپل شخصي غچ اخیستنې په موخه ناوړه استفاده وکړي او په کلیوالو سیمو کې به یو قوم راځي د بل قوم کسان به وژني او بل به راځي د بل قوم کسان به وژني او پلمه خو تیاره شته چې جگړه ده، چې دا کار د هېواد روان وضعیت لا پسې خرابولی شي او مسوولیت به یې بیا د همدې چارواکو پرغاړه وي چې نن یې امنیتي ځواکونو ته دا امر کړی.

موږ دا ډول پېښې په سترگو ولیدې، تېر کال په غزني کې د هزاره گانو او پښتنو ترمنځ جنجالونه یې ښه بېلگه ده او دغه راز ډېر وخت په ټولنیزو رسنیو کې داسې ویډیوگانې خپرې شوې چې پښتون بزگر، شپون، چوپان او نور عام کسان طالب په نوم وژل شوي او اوس هم شک کېږي چې د ولسي خلکو پر کورونو، کلیو او اسلامي مقدساتو لکه مسجدونو او مدرسو بریدونه هم د همداسې کسانو کار وي چې زړونه یې له قومي او شخصي تعصب او کینو څخه ډک دي، چې په دغه صورت کې بیا هم مسوولیت د حکومت مشرانو ته راجع دی؛ ځکه دوی امنیتي ځواکونو ته دا واک او پلمه په لاس ورکړې او له بلې خوا هر دولت د خپل ملت او خپلو وگړو د ژوند خوندیتوب مسوولیت لري، چې له بده مرغه د خپل مسوولیت په ادا کولو کې پاتې راغلی او ناکام دی.

د ملي یووالي حکومت ډېری پلویان دا نظر لري چې د طالبانو تر کنټرول لاندې سیمو کې ټول خلک یا طالبان دي، یا د طالبانو خپلوان دي او یا یې خواخوږي دي، نو د دوی په گومان چې وژل یې هم کوم جرم نه دی!

ښایي همدغو کسانو چارواکو ته د هېواد د روان وضعیت په اړه ناسم معلومات او ناسمې مشورې ورکړې وي او دوی به داسې فکر کړی وي چې په فشار سره به خپل وسله وال مخالفین وډار کړي، خو دا ډېر ناسم فکر دی.

نو که دا دلیل وي چې څوک د چا تر کنټرول لاندې ژوند کوي، نو معنا یې دا ده چې هماغه واکمنو پلویان دي، بیا خو د افغانستان نیمایي خلک د طالبانو پلویان دي؛ ځکه د دوی تر کنټرول لاندې ژوند کوي، هلته یې کورونه دي، نو بیا خو دولت باید د ځان د ټولو افغانانو وارث ونه گڼي!

خبره دا ده چې د ولس وژنه هېڅ توجیه نه لري او هر لوری یې چې وژني ظلم کوي، ولس مظلوم دی، ولس له لوږې سره مخ دی، ولس له تعلیم نیولې تر روغتیا او نورو پورې هېڅ ډول اسانتیاوو ته لاسرسی نه لري او که لري یې، هغه دومره کم دي چې په نشت حساب دي.

له مشرانو څخه مو هیله دا ده چې د خدای په خاطر نور په دې مظلوم ولس رحم وکړئ، تاسو خو خپل بچیان ښه ارامه ژوند ته خوشې کړي او هر ډول امکانات مو ورته برابر کړي، خو د دې مظلوم او بې چاره ولس پر بچیانو هم بمونه مه غورځوئ او مه یې د خپلو انتخاباتي کمپاینونو لپاره د خپلو غوښتنو او سیاستونو قرباني کوئ، هسې نه چې د خدای د قهر او غضب وړ وگرځئ.

د خدای ج خو دا هم په وس پوره ده چې په هغه ستاسو د ډاډ وړ او امنو هېوادونو کې ستاسو بچیان په اېډز درته مړه کړي. نور دغه هېواد د ورانولو نه دی، د خدای ج لپاره رحم ور باندې وکړئ.

## د دوحې پنځمه ناسته؛

# خلیلزاد وایي له طالبانو سره مذاکرات مهم پړاو ته رسېدلي دي



د وسله والو طالبانو او امریکایي استازي ترمنځ د خبرو پنځم پړاو نن په دوحه کې پیلېږي. امریکایي لوري ویلي چې مذاکرات مهم پړاو ته رسېدلي دي، نو له همدې امله ښایي د دې لیدنې پایلې گټورې وي. په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر هم وایي چې پرونۍ غونډه تعارفي وه او په نننۍ غونډه کې به پر مهمو مسایلو خبرې وشي. د دغه دفتر ویاند سهیل شاهین وایي چې پنځمه غونډه به څلور ورځې دوام کوي او ښایي امریکایي او طالب لوری مهمو هوکړو ته سره ورسېږي.

ټاکل شوې وه چې د قطر غونډه پرون د فبرورۍ په ۲۵مه پیل شي، خو وسله والو طالبانو ویلي چې پرون یوازې تعارفي ناسته وه او په دې ناسته کې د طالبانو مهم غړي او د دغه ډلې سیاسي مرستیال ملا برادر هم گډون کړی و. سهیل شاهین وایي، سره له دې چې ملا برادر په قطر کې دی، خو له امریکا سره په مذاکراتو کې به د طالب پلاوي مشري شیر عباس ستانکزی کوي.

سهیل شاهین زیاتوي چې د غونډې اجنډا د تېرو غونډو په څېر ده او ډېر تمرکز به یې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو وي. د شاهین په خبره، د ټولو بهرنیو ځواکونو وتل او همدا راز افغان خاوره د نورو هېوادونو پر ضد نه کارېدل هغه مهم مسایل دي، چې وربانديې بحث کېږي. شاهین زیاته کړې: ((له هېواده د بهرنیو ځواکونو وتل. له افغان خاورې چا ته د ضرر نه رسېدل د بحث مهم مسایل دي. د دې ترڅنگ به د نورو مسایلو په اړه هم کاري ډلې خپل فعالیتونه او مذاکرات مخ ته وړي. دوی به هڅه کوي چې د مذاکراتو په دې پړاو کې د هوکړې مسوده ترتیب کړي)).

په ورته وخت کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي، چې له طالبانو سره خبرې مهم پړاو ته رسېدلې دي. د خلیلزاد په خبره، په قطر کې له مهمو طالب استازو سره گوري. هغه تېره ورځ په یوه ټوېټ کې لیکلي وو: ((دوحې ته ورسېدم، چې د طالبانو له یوه ډېر باصلاحیته پلاوي سره وگورم. دا خورا ښه موقع کېدای شي. د کوربه توب لپاره د قطر او د سفر د زمینې مساعدولو لپاره له پاکستان مننه کوو. اوس جدي او صمیمانه کار پیلېدونکی دی)).

پخواني طالب چارواکي او په هېواد کې ځینې سیاسي ډلې د طالبانو او امریکا ترمنځ دغو خبرو ته هیله من دي. د دوی په خبره، په دغو مذاکراتو کې د طالبانو با صلاحیته او مهم کسان گډون کوي، نو ښایي د امریکا او طالبانو ترمنځ مهمې هوکړې رامنځ ته شي.

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال لوی څارنوال جلال الدین شینواري ویلي، ملا برادر د طالبانو په لیکو کې مهم رول لري. د شینواري په خبره، دی په نظامي برخه کې ډېر پلویان لري او گډون یې د قطر په غونډه کې مهم دی. شینواری زیاتوي: ((ملا برادر د طالبانو په لیکو کې په تېره په نظامي لیکو کې ډېر مهم کس دی. هغه ډېر اغېز لري. پرېکړې یې هم د طالبانو په لیکو کې اغېز لرلی شي، نو ښایي دغه غونډه مثبتې پایلې ولري)).

د سولې عالي شورا بیا وایي، وسله وال طالبان که رښتیا سوله غواړي، نو باید له افغان حکومت سره مخامخ خبرې وکړي. د دې شورا مرستیال عبدالخبیر اوچقون تېره ورځ په یوه غونډه کې د خبرو پرمهال وویل، طالبان باید په دې پوه شي چې یوازې افغان حکومت د دوی غوښتنې پوره کولی شي. د اوچقون په خبره، بل هېڅ لوری د دې وړتیا نه لري چې د طالبانو غوښتنې پوره کړي، ځکه افغانستان یو مستقل او خپلواک حکومت لري.

اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله هم تېره ورځ د وزیرانو شورا په غونډه کې د خبرو پر مهال وویل، چې که طالبان په رښتیا سولې ته ژمن وي او سوله غواړي؛ نو له افغان حکومت سره دې مخامخ خبرې وکړي. خو وسله والو طالبانو تر دې دمه له افغان حکومت سره خبرو ته هېڅ راز تیاری نه دی ښودلی.

# السیسي: ترهگري طاعون ناروغۍ ته ورته ده، پر وړاندې یې باید جدي مبارزه وشي

د مصر ولسمشر عبدالفتاح السیسي د اروپایي ټولنې او عرب‌لیگ گډې لومړنۍ سرمشریزې ته په پرانیستونکې وینا کې د ترهگرۍ گواښ د طاعون یوه مضره ناروغي بللې، چې د نوموړي په خبره، ټولې نړۍ ته خپره شوې او پر وړاندې یې د جدي مبارزې لپاره د همکارۍ د پیاوړي کېدو غوښتنه کړې ده.

السیسي ویلي، نن ورځ موږ ټول دې ته سخته اړتیا لرو چې د دغه گواښ پر وړاندې مبارزه کې په گډه همکاري وکړو. د نوموړي په خبره، ترهگري هغه پدیده ده چې په هېڅ ډول نه شي توجیه کېدای.

السیسي دغه خبرې په داسې حال کې کوي، چې مصر له ۲۰۱۳ ز کال راهیسې یعنې له واکه د پخواني منتخب ولسمشر محمد مُرسي تر لرې کېدو را وروسته، د افراطي ډلو له خوا د بریدونو د لړۍ شاهد دی.

د مصر پخوانی منتخب ولسمشر مُرسي د السیسي له‌خوا چې هغه مهال د دغه هېواد د پوځ مشر و، له واکه لرې او زنداني شو.

د اروپایي ټولنې او عرب‌لیگ په دغه لومړنۍ سرمشریزه کې، د اروپایي شورا د مشر ډونالډ ټوسک په گډون، د دې ټولنې او د عرب‌لیگ د غړو هېوادونو ځینو جگپوړو چارواکو گډون کړی و.

په دې سرمشریزه کې د ترهگرۍ، د افریقا له وچې او منځنې ختیځ څخه اروپا ته د کډوالو د بهیر په اړه د اروپایي ټولنې د اندېښنو او د پانگونې د امکاناتو په اړه خبرې شوې دي.

د اروپایي ټولنې مشر ډونالډ ټوسک هم په خپله وینا کې د مهاجرت ستونزې ته په اشارې ویلي، چې ټول هېوادونه، هغه چې کډوال ورڅخه راځي، ټرانزیټ او د کډوالو د وروستي مقصد هېوادونه باید په گډه د دغه غیر قانوني انساني قاچاق مخه ونیسي.

هغه زیاته کړې چې دغه هېوادونه باید د هغو قاچاق وړونکو مخه ونیسي، چې خلک د ښه ژوند په تمه غولوي او له ډېرو خطرناکو لارو یې ژوند په خطر کې اچوي.

## د کتاب خبري

# د لوی فکر جادو

لیکوال: دوکتور ډیویډ شوارټز
ژباړن: میراحمد یاد

### پنځم څپرکی
### څنګه نوی فکر وکړو؟




لوی شرکتونه د پیرودونکي په جلب ډېره زیاته پانګونه کوي. دوی د محصولاتو د خوند، ډیزاین، کیفیت او نورو په اړه د پیرودونکو له نظره ځان خبروي. د خلکو له نظره خبرېدل دوی ته د توکو د ډېر خرڅلاو په اړه ډېر زیات نظریات ور ټولوي. د دې تر څنګ تبلیغاتي ډلې ته هم لارښوونه کوي چې په تبلیغاتو کې د خپل محصول په اړه پیرودونکو ته څه ووايي. په تولید کې بریا د نظرونو په ډېروالي پورې اړه لري، دا ځانګه باید د خپلو پیرودونکو نظریات واخلي، بیا دې د محصولاتو د ښه کولو لپاره طرحه ورکړي چې د دې ډلې د مصرفوونکو رضایت ترلاسه کړي.

څو ورځې مخکې مې په یوه شرکت کې یوه تابلو ولیدله، په تابلو یې لیکلي وو: (که په چا څه پلورئ، نو هر څه ته باید د هماغه کس له سترګو وګورئ.) نو که شیانو ته د خلکو له سترګو ګورئ، هغوی چې څه وايي باید غوږ ورته کېږدئ.

ستاسې غوږونه دریڅې دي، دا درته هغه خام مواد درکولای شي چې ستاسې ذهن کې په نوښتګر قوت اوړي. په غږېدو څه نه زده کېږي، خو په پوښتنې او اورېدو ډېر څه زده کولای شو.

د پوښتنو او خبرو له لارې، د نوښتګر فکر د تقویې کولو لپاره درې کاره وکړئ:

۱. خلک خبرو ته وهڅوئ. په شخصي ناستو او جلسو کې خلکو ته دا جملې ووایئ او خبرې ترې وباسئ: (خپلې تجربې راته ووایئ)، (په فلانی موضوع کې باید څه وشي؟) که مو نور خلک خبرو ته وهڅول، نودوه ګټې به وکړئ: یو خو به د خپل فکر لپاره خام مواد پیدا کړئ او بل به ښه ملګري هم ومومئ. که د خلکو مینه غواړئ، نو تر ټولو ډاډمنه لاره یې دا ده چې خبرو ته یې وهڅوئ.

۲. خپل نظریات د پوښتنو په مرسته امتحان کړئ. له نورو خلکو د خپلو مفکورو په صیقل کولو کې مرسته واخلئ، دا طریقه وکاروئ چې: په دې اړه تاسې څه فکر کوئ؟ ضرور نه ده چې ستاسې هر فکر دې د کاڼي کرښه وي. لومړی د کار ټول اړخونه وسنجوئ. وګورئ چې همکاران مو د کار په اړه څه غبرګون ښیي. دا ټکی مراعات کړئ، چې ښو نظریاتو ته د لاسرسي امکان مو زیات شي.

۳. د مقابل لوري خبرو ته پام کوئ. غوږ نیول یوازې خوله بندول نه دي. غوږ کېښودل مو ذهن ته خبرې ښکته کوي. زیاتره خلک ذهناً خبرو ته متوجه نه وي، یوازې د غوږ نیولو تمثیل کوي. داسې خلک یوازې دې ته په تمه وي چې اوس مقابل لوری لږه ساه واخلي او دی یې خبره پرې کړي. نو نورو خلکو ته پام کوئ، خبرې یې ارزوئ، په دې مو ذهن ته خواړه برابرېږي.

موږ زیاتره معتبر پوهنتونونه ګورو چې کاروباري مشرانو ته د مدیریت روزنیز کورسونه برابروي. د دې پروګرامونو د تمویلونکو په وینا، د دې کار ګټه دا نه ده چې خلکو ته تیار جوړ فورمولونه ورکړي او هغوی یې بیا په کاروبار کې عملي کړي، بلکې موخه دا ده چې دوی د فکر، نظر او مفکورو د تبادلې ډېر فرصتونه پیدا کړي. د دې پروګرامونو یو شرط دا دی چې مشران په پوهنتون کې له محصلینو سره په یوه لیلیه کې اوسېږي، په دې توګه د دوی ترمنځ شخصي خبرې اترې پیل کېږي. اصلي خبره دا ده چې په مدیرانو کې یو خوځښت رامنځته کېږي او دوی ترې ډېره ګټه اخلي. یو کال مخکې په اتلانتا مدیریتي پوهنتون کې د خرڅلاو مدیریت یو سیمینار و او دا سیمینار د خرڅلاو مدیرانو ملي ټولنې تمویل کړی و. ماته د دوو ناستو مدیریت راکړل شوی و. څو ورځې وروسته مې یو ملګری ولید، چې دې پروګرام کې د یوه شرکت د خرڅلاو د مدیر په توګه یې کار کاوه.

ځوان ملګري مې وویل:

(تاسې او د هغه پروګرام نورو همکارانو زموږ د شرکت د ښې ادارې لپاره زموږ د خرڅلاو مدیرانو ته ښې مفکورې ورکړې.)

زما سودا شوه، پوښتنه مې ترې وکړه چې څه نوي بدلونونه یې لیدلي دي. هغه ډېرې بېلګې راکړې، لکه د خدمتونو د معاوضې په طرحې بیا کتنه، د خرڅلاو په اړه میاشتنۍ ناستې په پنځلسو ورځو کې کول، د نویو تبلیغاتي کارتونو او لیکنو کارول، د خرڅلاو د فعالیتونو په سیمو بیاکتنه او نور هغه مسائل چې زموږ په پروګرام کې مشخصاً نه وو توصیه شوي. هېڅ یو مدیر د تکرار او کلیشه یې لارو چارو له لیست سره نه و مخ شوی، بلکې ارزښتمن مسائل یې موندلي وو: د هغو موخو ترلاسه کولو ته یې جدي حرکت کړی و، چې د دوی د موسسو په ګټه او زیان کې مستقیماً دخیل وو.

یو ځوان حسابدار د رنګ په فابریکه کې کار کاوه، هغه د نورو د نظرونو له الهامه ځینې نوښتونه کړي وو، دی په خپلو دې نوښتونو وغړېده.


ما ته یې وویل:

(زما له ځمکو، جایدادونو او له دې ډول شیزونو سره هېڅ علاقه نه وه، ځکه کلونه کېږي چې پر حسابدارۍ اخته یم او له خپل کار سره مینه لرم. زما یو ملګری د ځمکو کار کوي، یوه ورځ یې مېلمه کړم، مېلمستیا ته د ځمکو د چارو نور مشاورین هم راغلي وو.

هغه ورځ یو سپین ږیری سړی د ښار د ودې او پرمختګ پر جریان غږېده، د خبرو موضوع یې (شل راتلونکي کلونه) وو. هغه اټکل کاوه چې ښاري ځمکه به دومره وده وکړي چې ان د ښار چاپېره کرنیزې ځمکې به هم رالاندې کړي. دا اټکل یې هم کاوه چې د یو او دوه هکتاره کورنیو ځمکو تقاضا به هم ډېره لوړه شي. دا نو دومره ځمکه وه چې یوې کورنۍ پکې کور، ډنډ (حوض)، غوجله، بڼ او نورو تفریحي شیان جوړولای شول. **دوام لري...**

# جورج واشنګټن

شفیق امیرزی



جورج واشنګټن (George Washington) په امریکا کې د انقلاب له مشرانو ګڼل کېږي. هغه په لومړي سر کې نظامي کس و. د امریکا لومړنی ولسمشر دی او دغه چاره یې په ۱۷۸۹ ز کال کې پیل کړې او تر ۱۷۹۷ ز کال پورې یې ادامه ورکړې ده. نوموړی د امریکا په سیاسي تاریخ کې تر ټولو مشهوره او پېژندل شوې څېره ده. نوموړی ځکه په امریکا کې ښه نوم لري چې له برېټانیا یې د امریکا خپلواکي اخیستې ده. جورج پیاوړی کس و، له انګلیس یې ځینې مستعمرې ازادې کړې، په ۱۷۷۵ – ۱۷۸۳ ز کلونو کې یې له انګلیس د امریکا خپلواکي واخیسته. ټولې ازادې شوې مستعمرې یې تر یوه بیرغ لاندې راټولې کړې او ټولې یې د امریکا د فدرالي حکومت تر چتر لاندې راوستې. جورج وکړی شوای چې د فرانسې او اسپانیا په مرسته، له امریکایي وسله والو وګړو یو ستر پوځ جوړ کړي او له همدې لارې یې برېټانیا ته ماتې ورکړه.

جورج واشنګټن په ۱۷۳۲ ز کال کې په ویرجینیا کې زیږېدلی دی. اخلاق، کړه وړه، روزنه او شخصیت یې د اتلسمې پېړۍ د نجیبو خلکو په څېر وو. هر څه یې هلته په ویرجینیا کې له خپل مشر ورور او پلاره زده کړل. جورج په دوو برخو کې له زده کړو سره ډېره مینه لرله؛ یو دا چې په نظامي برخه کې زده کړې وکړي او بل د ملکیتونو ځمکو د پراختیا په برخه کې خپلې زده کړې بشپړې کړي. هغه په ۱٦ کلنۍ کې د ملکیتونو د پراختیا په برخه کې له تامس فرفکس سره کار پیل کړ. همدلته یې د خپلې خوښې کار کاوه. په ۲۲ کلنۍ کې یې نظامي چارو ته مخه کړه او د امریکا په پوځ کې یې دنده واخیسته. واشنګټن هغه مهال خپل کار پیل کړ چې د هند او فرانسې په نامه اووه کلنه جګړه نوې د امریکا د ویرجینیا په ګډون، په ځینو ایالتونو کې پیل کېدونکې وه. ده له همدغه ځایه د برېټانیا د استازي په توګه خپله دنده پیل کړه. هغه یو مسلکي نظامي نه و، خو دا هغه مرحلې وې چې وروسته وروسته یې له ده پیاوړی قومندان جوړ کړ او د امریکا د انقلابي ځواکونو مشري یې کوله.

جورج واشنګټن رسمي زده کړې نه دې کړې. هغه هر څه له خپل مشر ورور او پلاره چې په ویرجینیا کې قاضي و، زده کړي دي. د جورج نیکونه اصلي امریکایان نه دي، دوی په ۱٦۵۷ ز کال کې له انګلستانه امریکا ته کډوال شوي دي. نیکونه یې ټول بزګران وو او په دغه ایالت کې یې پراخې ځمکې درلودې. دوی ډېر اشرافي ژوند درلود، پیاوړي او پوه خلک نه وو، خو دا چې په بزګرۍ او کروندو کې یې د پام وړ پرمختګ کړی و، نو د ویرجینیا په ډېرې سیمو کې ورته په درنه سترګه کتل کېدل. د جورج پلار هم د پراخو ځمکو خاوند و او هم یې یوه موده د قاضي په توګه کار کړی دی. خو جورج به تل ویل، چې د پلار او نیکه تر شتمنۍ فردي وړتیا مهمه ده. جورج د خپل پلار له پراخو ځمکو اغېزمن شوی و، نو ځکه به یې د ملکیتونو او ځمکو د نقشه کولو په برخه کې زده کړې خوښولې.

جورج د امریکا یوازینی ولسمشر دی چې رسمي زده کړې نه لري. په ۱۷۴۳ ز کال کې یې پلار ومړ، نو کورنیو ستونزو هغه ته دا اجازه ور نه کړه چې د خپل ورور په څېر په برېټانیا کې زده کړې وکړي. خو هغه پراخه مطالعه لرله، په ویرجینیا کې د قانونپوهانو د مجلس غړی و. هغه دلته لومړنی کس و، چې د برېټانیا د وارداتو د بندولو غوښتنه یې وکړه. سره له دې چې دې رسمي زده کړو په کولو بریالی نه شو، خو له زده کړو او مطالعې سره یې مینه بې کچې وه. هغه به د سیاست، حقوقو او هنرونو په اړه مطالعې کولې. جورج پر بزګرۍ مین سړی و، ده به تل ویل چې امریکا باید د نړۍ د غلې کندو وي. له همدې امله یې له بزګرانو او کروندو ملاتړ کاوه او د دوی په وده کې به یې هڅې کولې. جورج هڅه کوله چې د بزګرۍ او کروندو په برخه کې اسانتیاوې او نوې اختراعګانې رامنځ ته شي.

جورج په ۲٦ کلنۍ کې له یوې کونډې سره معرفي کېږي او له همدغه ځایه یې د ګډ ژوند نوی پړاو پیل کېږي. دغه ښایسته او زړه وړونکې کونډه مارتا دندریج کاستیس نومېده او له خپل مخکیني خاوند څخه یې دوه اولادونه لرل. مارتا ډېره شتمنه وه، د هغې شتمنۍ جورج پیاوړی کړ او په امریکا کې د انګلیس په مستعمرو کې تر ټولو شتمن کس و. له دې مېرمنې جورج هېڅ اولاد نه درلود، خو د ژوند تر پایه دواړه یو ځای وو.

جورج ورور ورور پر دې پوهېده چې دوی ته د برېټانیا تر استعمار لاندې ژوند څومره سخت دی او برېټانویان د امریکایانو له ځمکو څومره عاید لري. له همدې امله یې د برېټانیا ضد حرکتونو کې برخه اخیسته. جورج د ۱۷٦۰ تر ۱۷٦۴ ز کلونو تر منځ، په ویرجینیا کې قاضي و. خو وروسته چې د مستعمرو او انګلیس تر منځ جنجالونه پورته شول، نو جورج د امریکا په سراسري کنګره کې د ویرجنیا استازی شو.

کنګرې په ۱۷۷۵ ز کال کې پرېکړه وکړه چې د امریکا د وچې په کچه د (Continental Army) پوځ جوړ کړي.

دوی پرېکړه وکړه چې جورج واشنګټن د دغه پوځ مشر وټاکي. ځکه هغه په وروستیو کې ډېرې بریاوې تر لاسه کړې وې او په ویرجینیا او ځینو نورو ایالتونو کې یې پراخ نفوذ درلود. له همدې ځایه د برېټانیا ماتې پیل شوه. په لومړي سر کې د جورج پوځیانو ماتې وخوړه، د بېلګې په توګه، کله چې امریکایي ځواکونو د بوستون پر اډه برید وکړ، انګریزان یې مات کړل، خو ببرته یې نیوجرسي او نیویارک له امریکایي ځواکونو ونیول. جورج وروسته د دلاور سیند ته څېرمه د خپلو ځواکونو د بیا تنظیمولو چارې پیل کړې. وروسته یې له همدغه سینده په تېرېدو، په نیوجرسي کې برېټانویان مات کړل او همدې بریا امریکایي ځواکونو ته روحیه ورکړه.

کله چې د امریکا اساسي قانون تصویب شو، نو په ۱۷۸۹ ز کال کې الکترال کالج (ټاکنیز کالج) په یولړ پټو ټاکنو کې جورج واشنګټن د امریکا لومړنی ولسمشر وټاکه. د هغه د ټاکنې لپاره دلایل ډیر وو، یو خو دا چې د خپلواکۍ په جګړه کې یې خپل مهارت ښودلی و، بل دا چې پیاوړی مدیر و، بله دا چې د انقلاب له مشرانو و او وروستی خبره دا وه چې نوموړي اولاد نه درلود، نو هغه د امریکا د راتلونکې مشرۍ لپاره دعوه نه شوای کولی. هغه په ۱۷۸۹ ز کال کې د نیویارک پر واستریټ واټ، د فدرال ماڼۍ په بالکن کې ولاړ و او د امریکا د ولسمشر په توګه یې لوړه وکړه، په دې توګه نو هغه د امریکا لومړنی ولسمشر شو چې د ټاکنو له لارې واک ته رسېږي. جورج پوره واک نه درلود، تر ډېره واک له کنګرې سره و، جورج هم غوښتل له کنګرې سره ښې اړیکې ولري، خو بهرنۍ پالیسي بیا ټوله له ولسمشر سره وه.

د فرانسې د انقلاب له امله د انګلیس او فرانسې تر منځ ستره جګړه و نښته. په دې منځ کې جورج واشنګټن نه د فرانسې پلوه بهرنیو چارو وزیر توماس جفرسون خبرو ته غوږ کېښود، نه د انګلیس پلوه مالیې وزیر الکساندر همیلتون خبرو ته، نه یې د انګلیس خوا و نیوه او نه هم د فرانسې، جورج پرېکړه وکړه چې په دغه حالت کې بې طرفه پاتې شي، ځکه امریکا باید پر پښو درېدلې وی.

کله چې د هغه د حکومت لومړۍ دوره د پای ته رسېدو په حال کې وه، په امریکا کې دوه ګوندونه جوړېدل. هغه د یوه ګوند غړی هم نه و، خو د فدرالیستانو له برنامو به یې ملاتړ کاوه او دوی هم له ده الهام اخیست. هغه امریکا ته بې ساري خدمتونه وکړل، امریکا یې یو هېواد کړه، ټول ایالتونه یې سره متحد کړل او د ډیموکراټیک نظام بنسټ یې کېښود. د حکومت دویمه دوره یې چې پای ته ورسېده، له سیاسته ستړی شو، د ټاکنو په درېیمه دوره کې یې ګډون کول رد کړل. په همدې توګه یې دا دود هم پرېښود چې جمهوري ریاست باید دوه دورې وي. هغه د خپلې مخې ښې په وینا کې، له امریکایانو وغوښتل چې تعصب پرېږدي، حزبي، مذهبي، ژبني او له نورو تقابلونه لاس واخلي او د یوې پرمختللې امریکا لپاره کار وکړي.

جورج چې کله له خپلې دندې را وګرځېد، نو مانت ورنون ته ولاړ او هلته یې په خپلو کروندو کې استراحت غوره کړ. هغه په ۱۷۹۹ ز کال کې د ستوني د عفونت له امله ومړ، د هغه د مرګ ورځ د ډسامبر ۱۴مه وه. امریکا میاشتې میاشتې د هغه پر مرګ غمګینه وه او په ټوله امریکا کې د غم ټغر هوار و.

جورج ته اساسي قانون واک ورکړی و، چې ځان ته کابینه جوړه کړي او د بېلو برخو لپاره وزیران وټاکي. هغه وخت داسې انګېرل کېده چې ۱٦ وزیرانو ته اړتیا ده، خو جورج دا کار ونه کړ، هغه یوازې څلور اصلي وزیران پر دنده وګومارل او پاتې نور د اړتیا وړ پوستونه د یادو وزارتونو تر امر لاندې چلېدل او یا یې مشرانو د ولسمشر په مستقیمه لارښوونه کار کاوه. دا څلور وزارتونه د بهرنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت، د مالیې وزارت او عدلیې وزارت وو. ولسمشر دوی ته په خپلو چارو کې مکمل واک ورکړی و. د بهرنیو چارو او دفاع وزیران همیلتون او جفرسون دوه مخالف کسان وو، دوی له یو بل سره پراخ مخالفتونه لرل، خو واشنګټن وکړی شوای چې دوی تر یوه چتر لاندې راولي او ګټور کار ترې واخلي. دا ویل کېدل چې ښايي په دې سره د دواړو تر منځ مخالفتونه او رقابتونه لا ډېر شي، خو جورج دوی دومره مصروفه کړل چې خپلو رقابتونو ته یې وخت هم پیدا نه کړ. هغه په دې توګه د لومړي ځل لپاره په امریکا کې د ډیموکراټیک نظام بنسټ کېښود او له مختلفو قشرونو یې یو قوي حکومت جوړ کړ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٤,٦۰ |
| € | ۸٤,۷۰ |
| Rp. | ٥۳٤ |
| ₹ | ۱۰٥٥ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٦,٥۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |


### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# په کار او دنده کې د پس پاتې کېدو لاملونه

ژباړه: امان الله«حنیفي»



په کار او دنده کې ورځ تر بلې پرمختګ کول ډېر خلک په اسانۍ سره زده کوي، خو ځینې بیا داسې هم شته چې په دغه راز یې هېڅ سر نه خلاصېږي. همدا اوس تاسې په کوم حالت کې یاست، پرمختګ کوی او که ځای پر ځای ولاړ یاست؟ موږ په همدې مقاله کې شپږ هغه ټکي درته ښیو چې په کار او دنده کې ستاسې ځای پر ځای پاتې کېدل ښیي. مانا دا چې تاسې د لا ښه والي په غم کې نه یاستی او همداسې شپې او ورځې تېروی. خو ځینې وخت تاسې ته دغه حالت چې ایا تاسې پرمختګ کوی او که ځای پر ځای ولاړ یاستی، نه مالومېږي. که مو دا لاندې عادتونه درلودل، پوه شی چې تاسې د ودې او پرمختګ په حال کې نه یاستی:

**۱ـ مناسبه دنده نه ترسره کوی**

ځینې کسان خپل کار او دنده په ډېر ښه ډول ترسره کوي، خو د ځای په بدلېدو سره بیا نه شي کولای، چې پر هغه پوره کنټرول ولري. کېدای شي تاسې په کار کې ډېر تکړه یاستی، خو که حاضر کار او دنده مو یو ځل هم ښه ترسره نه کړی، وېرېږی او دا وېره مو زړه ته اچوی. هېڅوک له تېروتنې خالي نه دي، خو په وار وار د یوې تېروتنې تکرار بیا د همغه کس په کمزورۍ دلالت کوي. هڅه وکړئ چې له خپلو وړتیاوو سره برابره دنده او کار سرته ورسوی.

**۲- د نورو کسانو له تېروتنو ملاتړ کوی**

موږ دا نه وایو چې تاسې له خپلو همکارانو ملاتړ مه کوی یا هغه ته چنداني توجه مه کوی. تاسې باید په کاري چاپېریال کې نورو ته روحیه ورکوونکي او له هغو سره مرسته کوونکي و اوسی. خو په دې هم باید پوه شی چې ستاسې کوم همکاران د پرمختګ او ودې په حال کې دي یا رښتیا هم غواړي ورځ تر بلې خپلو هیلو ته نږدې شي. تاسې داسې یو کار وکړی چې هغوی تاسې ته ارزښت درکړي. تر بل هر چا ستاسې د مدیر یا رییس نظر او خبره په دغه چاره کې تر ټولو مهمه ده، خو کېدای شي یوازې د هغه نظر او خبره ونه شي کړای چې تاسې ته لازمه لارښوونه وکړي.

په دې سربېره تاسې باید نور داسې کسان هم وپېژنی چې هغه په تصمیم نیونه کې درسره مرسته وکړي. په دې اړه له هغوی سره ښه اړیکه جوړه کړئ، ځو دغه لاره لا هم ښه وپېژنی. د نورو همکارانو برياوې مو وستایئ او له تېروتنو یې تاسې ننګه مه کوئ. که یې تاسې ننګه وکړی، مانا دا چې تاسې سر له اوسه خپله ماتې منلې او د بهانو په لټولو کې یې تکړه یاستی. خپلې او د نورو همکارانو تېروتنې مو ومنی او د بیا تکرار مخنیوی یې وکړئ.

**۳- شرایطو ته په کتو مو موخو کې بدلون نه راولی**

ځینې وخت شراط تغیر کوي او دا د یو شرکت یا سازمان د موخو د بدلون سبب هم کېږي. د بېلګې په ډول، کېدای شي تاسې او ستاسې کاري ګروپ ښه پرمختګ وکړي، کېدای شي ستاسې نوې نظریه د شرکت د تولیداتو د زیاتېدو سبب شي او په دې سره د خپل محصول لپاره ښه بازار پیداکړی، خو دا هغه وخت ممکنه ده چې تاسې د خلکو غوښتنو او اړتیاوو ته په کتو، ورته محصول بازار ته وړاندې کړی.

**۴- ستاسې امتیاز ستاسې له وړتیا زیات دی**

ممکن تاسې په کلونو کلونو په یو شرکت کې د خپل کلنې امتاز په زیاتېدو سره کار وکړی. همدا وخت مو خپله تجربه او تحصیلي تخصص له هغه امتیاز سره چې تاسې یې اخلی، پرتله کړئ چې تاسې د دغه امتیاز ارزښت لری او که نه؟ ایا د هغه کاري ګروپ او ستاسې په منځ کې چې ستاسې په اندازه کار کوي، یوازې په امتیاز کې فرق دی؟

د ځان په اړه مو دا موارد و ارزوی او د اړتیا په صورت کې یې د اصلاح لپاره کار وکړی، ځو د شرکت یا ادارې د راتلونکو تغیراتو قرباني نه شی.

**۵- نوي څه نه زده کوی**

ایا د شرکت یا ادارې په نوې پروژه کې مو ونډه اخیستې یا مو د هغه په اړه په جوړه شوې ناسته کې خپل نظر څرګند کړی دی؟ ایا د شرکت او ادارې لپاره نوې پروژې لری؟ په تېرو کلونو کې مو څو ځله ستاسې د مسوولیت اړوند پروژو کې برخه اخیستې؟ ایا هره ورځ زده کړې کوی؟

په کار او دنده کې وده او پرمختګ یوازې په فکر کولو او کاري ځای ته په تلو راتلو نه کېږي، تاسې باید ورځ تر بلې خپل مسوولیت او د هغه په مقابل کې خپله وړتیا وارزوی او ورځ تر بلې د مسوولیت په اړه د خپلې وړتیا د لا ځواکمنولو لپاره کار وکړئ.

**٦- تاسې اوس د یو نامعلوم هدف پر لوري روان یاستی**

که له ډېرې مودې وروسته مو دا لومړی ځل وي چې د خپل کاري پرمختګ په اړه فکر کوی، ښه خبره ده او لا هم تاسې کافي وخت لری چې پر خپلو موخو پوره تمرکز وکړی. که له دې مخکې ستاسې فعالیتونو ستاسې لپاره ښه پایله لرلې وې، کېدای شي د شرکت له موخو سره چنداني همغږې نه وي. تاسې پوره هڅه وکړی چې د خپل شرکت موخو او بیروني شرایطو ته په کتو، خپلې وړتیاوې، اړیکې او عادتونه برابر کړی.

کېدای شي تاسې له خپل شرکت سره مینه ولری او پر دې هم پوه یاستی چې ستاسې وړتیاوې د شرکت د موخو د ترلاسه کولو په مقابل کې، ډېرې پیاوړې دي. کېدای شي دا وخت تاسې یوازې په دې خاطر دلته پاتې شی چې د شرکت وضعیت مو لا نور هم ښه شي، خو له دې سره سره، دغه ریسک هم باید ومنی چې کېدای شي شرکت تاسې ته هغه امتیازات چې تاسې یې وړ یاستی، در نه کړي.

که په پوره دقت سره کار ونه کړی، کېدای شي د خپلې دندې له سرته رسولو نور ستړي شی.

# اجرایه رییس: د ټاکنیزو کمېسیونونو ناڅرګند حالت اندېښمن کړي یو



اجرایه رییس عبدالله عبدالله په ټاکنیزو کمېسیونونو کې د ناڅرګند حالت په اړه اندېښنه څرګنده کړې ده.

عبدالله دغه حالت د هېچا په ګټه نه بولي او وایي چې د ټاکنیزو کمېسیونونو د کمېشنرانو د غوراوي بهیر ته باید درناوی وشي.

نوموړي تېره ورځ د وزیرانو شورا د ناستې په پیل کې ویلي، چې د ټاکنیزو کمېسیونونو د کمېشنرانو غوره کول د حکومت لومړیتوب دی او په دې چاره کې باید ځنډ ونه شي.

د نوموړي په خبره: «انتخابات باید په ټول جدیت سره تعقیب شي، زموږ لومړیتوب د کمېشنرانو غوراوی دی. کوم لېست چې حکومت ته ورکړل شوی، غوښتنه یې دا ده چې هماغه پروسیجر چې حکومت له وړاندې تعیین کړی، باید احترام ورته وشي، په اوس وخت کې په کمېسیون کې ناڅرګند حالت په ګټه نه دی.»

دا یوازې اجرایه ریاست نه دی چې په ټاکنیزو کمېسیونونو کې د کمېشنرانو د نه موجودیت خبره کوي، بلکې تر دې وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون هم په دې اړه اندېښنه څرګنده کړې وه.

د ولسمشر غني له لوري د ټاکنیزو کمېسیونونو د کمېشنرانو له ګوښه کولو دوې اونۍ تېرېږي، خو د ارګ په خبره چې د راتلونکې اونۍ په پیل کې به نوي کمېشنران په خپل کار پیل وکړي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ د ویاند هارون چخانسوري په خبره، تر دې دمه د بېلابېلو بنسټونو له لوري په ټاکنیزو کمېسیونونو کې د غړیتوب لپاره د ۸۴ کسانو لېست دوی ته سپارل شوی دی.

د ټاکنو د قانون له مخې، له دې ډلې به ولسمشر ۱۳ کسان د کمېشنرانو په توګه او دوه نور کسان به د دغو دوو کمېسیونونو د دارالانشا د رییسانو په توګه وګوماري.

بلخوا پر ټاکنو د څار بنسټونه وایي، چې د کمېشنرانو د ګومارنې ځنډ به نه یوازې د ولسمشریزو ټاکنو پر نېټې اغېز وکړي، بلکې ټولنیز عدالت او حکومت به تر پوښتنې لاندې راولي.

د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ اجرایوي مشر یوسف رشید په دې اړه ویلي: «د کمېشنرانو په ګومارنه کې ځنډ، پروسه اوږدوي او کمېسیون نه شي کولای چې مهالوېش جوړ کړي او دویم دا چې حکومت به تر پوښتنې لاندې راولي، نه پوهېږم چې بالاخره حکومت له دغې پروسې څه غواړي؟ که دغسې حالت وي، مهالوېش به جداً اغېزمن کړي.»

رشید سره له دې چې د کمېشنرانو نه موجودیت په ټاکنیزو چارو کې بې اغېزې نه بولي، خو وایي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید په داسې پلمو داسې برخلیک ټاکونکې پروسې له ستونزو سره مخ نه کړي.

# عمران خان: افغان کډوال له دې وروسته د پاکستان په ملي اقتصاد کې برخه اخیستی شي



د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ویلي، اړوندو ادارو ته یې لارښوونه کړې چې په پاکستان کې ثبت شویو افغان کډوالو ته د بانکي حسابونو د پرانیستلو اجازه ورکړي.

عمران خان په خپل ټویټ کې چې په پښتو ژبه یې کړی، ویلي چې له دې وروسته افغان کډوال د پاکستان په ملي اقتصاد کې هم «باقاعده» برخه اخیستلی شي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې مخکې هغو افغان کډوالو، چې په نړیوالو رسمي ادارو کې یې کار کاوه او سوداګر وو، په خپلو نومونو بانکي حسابونه لرل، خو عادي افغانانو بیا د دغه کار اجازه نه درلوده.

عمران خان داسې مهال افغان کډوالو ته د بانکي حسابونو د پرانیستلو اجازه ورکوي، چې پاکستان په اقتصادي لحاظ له یو (بد حالت) سره مخامخ دی او په دې وروستیو کې د امریکا له خوا په خړ لېست کې هم شامل شوی دی.

بلخوا ملګري ملتونه وایي، اوسمهال شاوخوا اته میلیونه افغانان بې ځایه او مهاجر دي چې له دې ډلې یې شاوخوا دوه میلیونه په پاکستان کې ژوند کوي چې د افغانستان د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت په خبره، ۱،۳ میلیون یې ثبت او راجستر دي.

دغه راز درې میلیونه نور افغانان بیا په ایران کې ژوند کوي چې یو میلیون یې ثبت او راجستر شوي دي. خو د رپوټونو له مخې په ایران کې د افغان کډوالو د ژوند شرایط هم ښه نه دي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer Daily
New Vision, New Journey






المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



سه شنبه د ۱۳۹۷ د کب اوومه | د ۲۰۱۹ د فبروري ۲۶مه | دویم کال | ۳۴۱مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | ۱۳ | ۱۵ | ۱٤ | ۱٦ | ۱۲ |
| -۱۱ | ۱ | ۰ | ۱ | ۳ | -۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰٤ | لمر ختل ۰٦:۲۸ | ماسپښین ۱۲:۰۷ | مازیګر ۰۳:۱۹ | ماښام ۰٥:٤٦ | ماخوستن ۰۷:۱۰

## نړۍ



# السیسي: ترهګري طاعون ناروغۍ ته ورته ده، پر وړاندې یې باید جدي مبارزه وشي

۳

## کار شیوۀ رایدهی به اعضای تازۀ کمیسیون‌های انتخاباتی آماده نشده



احزاب، نهادهای جامعۀ مدنی و نامزدان انتخابات ریاست جمهوری می‌گویند که تاکنون هیچ کارشیوه‌یی دربارۀ چگونگی رأی‌دهی برای گزینش اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی ساخته نشده است.


این احزاب، نهادهای جامعه مدنی و نامزدان می‌گویند که دربارۀ روشن‌شدن محل گردآمدن نامزدان انتخابات ریاست جمهوری و چگونگی رأی‌دهی برای گزینش اعضای کمیسیون‌های انتخاباتی در انتظار تصمیم حکومت استند.

نو رحمان اخلاقی، عضو کمیتۀ سیاسی احزاب و جریان‌های سیاسی در این باره گفت: «به یک طرزالعمل نیاز است. قبلاً دربارۀ آن بحث شده بود که یک طرزالعمل زیر نظر ریاست جمهوری احزاب سیاسی، نهادهای جامعه مدنی و نامزدان باید ساخته شود، ما از آقای دانش خواستیم که هرچه زودتر شود که چگونه رأی‌دهی شود، کی نظارت کند و منتظر استیم که این جلسه دایر شود اما تاکنون نشده». محمد حکیم تورسن، نامزد انتخابات ریاست جمهوری نیز افزود: «تاکنون چیزی به ما از ریاست جمهوری نیامده، ما منتظر استیم که به کدام محل برویم تا و کدام روز برویم». بر بنیاد قانون تعدیل شدۀ انتخابات، هژده نامزد انتخابات ریاست جمهوری باید از میان ۸۴ نامزد معرفی شده از سوی نهادهای جامعه مدنی و احزاب سیاسی چهارده تن را برای عضویت در کمیسیون‌های انتخاباتی بر گزینند.

اما، حکومت می‌گوید که تا کنون جای، روز و چگونگی رأی‌دهی به اعضای کمیسیون های انتخاباتی روشن نشده است.

محمد هدایت، مشاور مطبوعاتی معاون دوم رئیس جمهور گفته است: «هیچ چیزی از پیش تعیین شده وجود ندارد که بگویم کی صندوق را می‌گذارد و چه کسی شکارش می کند آرا را همه پروسه را خود کاندیدان به عنوان یک کمیته گزینش انجام بدهند؛ اما چه وقت شود، باید در همین هفته این کارها انجام شوند». با این حال، سید نورالله جلیلی، یکی از نامزدان انتخابات ریاست جمهوری دربارۀ تعدیل قانون انتخابات، از سوی رئیس جمهور اعتراض دارد. او می‌گوید: «با تغییر قانون مخالف بودیم در هیچ یک از جلسات اشتراک نکردیم و این را جز صلاحیت‌های رئیس جمهور ندانستیم».

## پاکستان د هند تر ګواښ وروسته، روغتونونو ته د تیاریو امر کړی دی



پاکستان د هند تر ګواښ وروسته د خیبر پښتونخوا ملکي او دولتي روغتونونو ته امر کړی، چې ۲۵ سلنه روغتیایي بسترې تیارې وساتي.

په خیبر پښتونخوا کې روغتونونو ته دغه لارښوونه وروسته له هغې شوې، چې په پلوامه تر برید وروسته پاکستان او هند یو بل ته خبرداري ورکړل.

د خیبر پښتونخوا د روغتونونو سکرتر ډاکټر سید فاروق جمیل په پاکستان کې امریکا غږ ته ویلي، چې دغه امر د پاکستان د حکومت لخوا دوی ته شوی دی.

نوموړي ویلي چې د ممکنه بحران رامنځته کېدو په صورت کې هغو روغتونونو ته چې له ۲۰۰ څخه زیات بستر ولري، امر شوی چې ۲۵ سلنه یې تیاری ونیسي.

دا په داسې حال کې ده چې د هند تر ولکې لاندې د کشمیر په پلوامه سیمه کې وروستي ځانمرګي برید، چې ۴۱ هندي سرتېري یې ووژل، د دواړو هېوادونو اړیکې یو ځل بیا ترینګلې کړې.

هند د دغه برید تر شا د پاکستان لاس وباله او د غچ اخیستلو خبرداری یې ورکړ، خو پاکستان د دې ترخنګ چې په دغه برید کې لاس لرل رد کړي، ویلي که هند پرې برید وکړي، سمدستي به یې ځواب ورکړي.

د یادونې ده چې د دغه برید مسوولیت د پاکستان په پنجاب کې مېشتي جیش محمد ډلې پر غاړه اخیستی دی.

## پامپیو: پر مادورو به خپلو فشارونو ته دوام ورکړو



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، هېواد به یې د وینزویلا پر ولسمشر نېکولاس مادورو تر هغو فشارونو ته دوام ورکړي، چې دی پوه شي چې د واک ورځې یې پای ته رسېدلې دي.

پامپیو دغه څرګندونې وروسته له هغې کړې دي چې هغه فعالان چې غوښتل یې د امریکا بشري مرستې د برازیل او کولمبیا له سرحدونو وینزویلا ته داخلې کړي، له حکومتي ځواکونو سره ښکېل شول.

د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په دغو نښتو کې د دوو تنو د وژل کېدو او ۳۰۰ نورو د ټپي کېدو خبر ورکړل شوی دی.

پامپیو له فاکس نیوز سره په مرکه کې ویلي چې د ولسمشر ټرمپ اداره به د خوان ګوایدو، چې ځان یې په خپله د دغه هېواد ولسمشر اعلان کړی، ملاتړ ته دوام ورکړي.

هغه د مادورو د حکومت پر وړاندې له قوي څخه د استفادې مسئله نه ده رد کړې، خو ویلي یې دي چې پر کاراکاس به فشارونو ته دوام ورکړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په وینزویلا کې حکومت په دوو برخو وېشل شوی دی. د دغه هېواد د اپوزیسیون مشر خوان ګوایدو چې د لوېدیځ ملاتړ له ځانه سره لري، ځان د دغه هېواد د ولسمشر په توګه معرفي کړی دی.

## ژوند


## زړښت او نښې نښانې یې



زړښت هغه طبیعي پدیده ده چې له ٦۰ کلنۍ وروسته پر انسان اطلاقېږي.

د دې پدیدې نښې په ټولو عمر خوړلو کسانو کې یو شان، خو سرعت یې بیا توپیر لري. د بېلګې په ډول، ډېری کسان به مو لیدلي وي چې لا ٦۰ کلنۍ ته نه وي رسېدلي، خو بې شیمې او بې حوصلې شي، خو برعکس داسې کسان هم شته چې ان ۷۰ کلنۍ ته رسېدلي وي، خو لا هم ښه تندرست او مزي ښکاري. دویمه ډله یې بریالي عمر خوړلي کسان دي، چې دوی ان له ځوانۍ څخه ورزش کړی او سالم غذایي رژیم یې مراعات کړی دی. د لوړ عمر کسان باید د ځوانۍ په پرتله ډېر د خپل ځان خیال وساتي؛ ځکه د بدن دفاعي سیستم او په ټوله کې د بدن غړي، نور د پخوا په څېر نه وي. کله چې د انسان عمر لوړېږي، یوه تر ټولو لویه ستونزه چې ورسره مخ کېږي، هغه د اشتها نه درلودل دي. د یوازېتوب احساس، خپګان، جانبي عوارض، درمل، د پنځه ګونو حواسو ضعف، د غاښونو ستونزې او د خوړو بې خوندي ټول هغه عوامل دي، چې د عمر خوړلو کسانو د اشتها د کموالي لامل کېږي.

## شیامي شرکت (مي مېکس G٥ -۳) معرفي کړ



له اوږدو انتظار وروسته د ټکنالوژۍ مشهور چینایي شرکت شیامي د ( MWC ۲۰۱۹) په نوم نندارتون کې، خپل نوی تولید چې (مي مېکس G٥-۳) دی، مېنوالو ته د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې معرفي کړ. دغه چینایي شرکت وایي، (مي مېکس G٥-۳) په ډېره لوړه ټکنالوژۍ سمبال دی او دا د نوموړي شرکت لومړني G٥ موبایلونه دي. د تېر ۲۰۱۸ ز کال په اکتوبر کې هم شیامي شرکت ځینې نوي تولیدات بازار ته وړاندې کړي وو، خو ویل کېږي چې (مي مېکس G٥-۳) له هره اړه پرمختللی دی، داسې چې په پلورلو سره به یې د خپلو پیرودونکو زړونه لا را خپل کړي. داسې هم ویل کېږي، چې د دغه شرکت دغه نوی تولید، د موبایل جوړولو له ډېرې تولیدي توکو سره سیالي کولی شي او له سامسونګ ګلکسي اېس سره ډېر ورته والی لري. دا چې دغه شرکت خپل نوي تولیدي توکي په امریکا کې نه شي پلورلی، نو د کاروونکو په خبره یې چې ډېر زیات پلور به ونه لري. په روانه او راتلونکې میاشت کې د موبایل جوړولو ډېر نور شرکتونه، لکه سامسونګ، اپل او (اېل جي) هم غواړي، خپل نوي تولیدات بازار ته وړاندې کړي.